# خبردار اوسئ! نږدې ده چې يو سړي ته به زما لخوا نه حديث ورسيږي او هغه به بالښت ته تکيه وهلي وي او وايي به : زمونږ او ستاسو تر منځه د الله کتاب دی

له مقدام بن معديکرب رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «خبردار اوسئ! نږدې ده چې يو سړي ته به زما لخوا نه حديث ورسيږي او هغه به بالښت ته تکيه وهلي وي او وايي به : زمونږ او ستاسو تر منځه د الله کتاب دی ، نو څه مو چې پکې حلال وموندل حلال يې ګڼو، او څه مو چې پکې حرام وموندل حرام يې ګڼو، او حال دا چې هغه څه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم حرام کړي دي - حرمت يې داسې دی - لکه الله تعالی چې حرام کړي وي».

[صحيح دی] [ابو داود، الترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله - صلی الله عليه وسلم - خبر ورکوي چې داسې زمانه را نږدې شوې ده چې د خلکو يوه ډله به ناسته وي او يو تن به يې پر خپل بستر تکيه وهلي وي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث به ورته ورسيږي، نو وايي به: هغه څه چې زمونږ او ستاسو ترمنځ په چارو کې پريکړه کوي هغه قرآن کريم دی او دا زمونږ لپاره کافي دی، نو څه مو چې پکې حلال وموندل عمل پرې کوو، او څه مو چې پکې له حرامو وموندل ځان ترې ژغورو. بيا رسول الله - صلی الله عليه وسلم - دا خبره جوته کړه چې هر هغه شی چې هغه حرام کړی وي او يا يې په خپلو سنتو کې له هغه څخه منعه فرمايلي وي نو هغه په حکم کې داسې دی لکه الله جل جلاله چې په خپل کتاب کې حرام کړی وي؛ ځکه چې هغه د خپل رب له طرفه - پيغام - رسوونکی دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65005

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee